دوکتور صلاح الدین تاریخ 17 / 01 / ۲۰۰۹

# آیا جلالی صاحب په ریښتیا هم د اروپا د افغانانو کاندید دی؟

درنو لوستونکو ما دغه مقاله دافغان جرمن او ډیول افغان په ویب پاڼو کی د محترم ځپاند صاحب په قلم ولوستله نو دغه لاندی ټکی ددغی مقالی دتکمیل لپاره ضروری گڼم !

محترمو لوستونکو السلام علیکم و رحمه الله و برکاته!

ما د ټول افغان او د افغان جرمن دروند او دقدر وړ ویب پاڼه خلاصه کړه او ستاسی په لیکل شوی مطلب می نظر و لگید. خدای دی د افغان جرمن او ټول افغان د ویب پاڼی چلوونکوو ته خیر ورکړی. په ریښتیا خپل رسالت یې ښه اداء کړی .

غواړم تاسی او درنو لوستونکو ته په ډیر احترام او ادب یوی څو سپینی او د صداقت خبری وکړم .دومره زیاد وخت نه شته که په لیکنه کې املایی او انشایی غلطی وی تاسی به می وبښی.

گران وروره ځپاند ! غواړم تاسی ته د تاسی د لیک په سلسله څو ټکی د تفکر او تعمق لپاره ولیکم:

ستاسی عنوان:

آیا جلالی صاحب په ریښتیا هم د اروپا د افغانانو کاندید دی؟

زما پوښتنه:

آیا محترم باراک اوباما په ریښتیا د تماموامریکایانو انتخاب شوی رئیس جمهور دی؟

آیا حضرت ابوبکر صدیق په ریښتیا د تمامو مسلمانانو په انتخاب اولین خلیفه د اسلام وه؟

آیا تاسی د تمام اروپا د روشنفکرانو او یا افغانانو په نماینده گی سره د افغانستان اوسنی رئیس جمهور حامد کرزی ته هغه سره د لیدنی په وخت ـ د همکاری او خدمت وعده ورکړی وه؟

آیا ریښتیا ده چه محترم حامد کرزی تاسی ته په ځواب کې ویلی وه چه تاسی دلته نشم ساتلی، تاسی همالته بهر کې ځان وساتی؟

آیا په تاریخ کې تاسی داسی رئیس جمهور او زعیم پیژنی چه د تمامو له خوا انتخاب او یا کاندید شوی وی؟

آیا ریښتیا ده چه دیکتاتوری پرولتاریا، حاکمیت دسته جمعی بر وسایل تولید، تقسیم عادلانه نعمات مادی، راه رشد غیر سرمایداری،دولت وسیله فشار یک طبقه بالای طبقه دیگر، رهبری شوی اقتصاد، حاکمیت یک حزبی – دا او داسی نور افکار - بشریت او افغانی ټولنه د تباهی سره مخامخ کړل؟

آیا ریښتیا ده چه علم او جهان به حرکت کې دی او د سوړ جنگ د دوران شعارونه نوی جهان نشی آبادولی؟

آیا ریښتیا ده چه باید پرونی سرحدات مات کړو او په یو نوی، صادقانه او پاکی ارادی د افغانستان د خلکو په زخمنو پټی کیدو.

آیا دا ریښتیا ده چه د اوسنی زعمات ابتکار د عمل نه لری اوخلکو ته څه د حل لاری نه لاری؟

آیا ریښتیا ده چه د دی حاکمیت الترناتیف باید ولټل شی؟ آیا ریښتیا ده چه باید خپل مسؤولیت اداء کړو؟

که دی او داسی نورو سوالونو ته ځواب واضح او ښکاره دی نو بیا دداسی سوال چه تاسی مطرح کړی څه مانا او مقصد لری؟

زه منم چه د افغانستان په سیاسی ستیج کې باید تمام هغه ځواکونه چه د تفاهم اصول او مربوطه قوانین مراعاتوی باید د تنفس ځای ولری. زه منم چه ستاسی سیاسی حرکت هم په افغانستان کې د تنفس حق لری. اما خلکو ته د ویلو وړ او ضروری گڼم چه خبر ورکړم که تاسی د خلکو د دیموکراتیک گوند د ادامه ورکوونکو څخه یاست – باید په دی پوه شی چه دنیا په بله زمانه کې ده. هغه شعارونه او هغه نسخی زړی شوی. اولیتونه بل دی.

په دی مرحله کې سوال داسی دی. آیا تغییر ته ضرورت شته که یه؟ زما ځواب دادی چه هو تغییر او نوی زعامت ته ضرورت دی .

پوښتنه او سوال داسی دی دا زعامت به څوک وی او کومی نسخی د حل ریښتنی لاری دی؟ دا زعامت باید څه مشخصات ولری؟ آیا دا زعمات یو مسلکی او فنی پست دی که سیاسی؟ آیا ددی زعامت لرونکی باید نړیوالی اړیکی ولری که یه؟ آیا نړیوالی اړیکی لرل د جاسوسی په مانا دی؟

د افغانستان په اوسنی سیاسی ستیج کې کوم گوند، حزب، سازمان او شخصیت د افغانستان د خلکو په زخمونو پټی اینسودی شی او داخلک او وطن د آبادی، عمران او صلحی په طرف کاږلی شی. څوک به یی ټول کړی دابی زوره


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

زوروره خلک ؟ دا کشتی څوک له ډوبیدلو خلاصولی شی او  الترناتیف څوک دی؟
محترم ځپاند صاحب تاسی څوک پیژنی را معرفی یی کړی.
زه د محترم پروفیسور علی احمد جلالی په شخصیت کې داسی قوت وینم .
د ویلو وړ ګنم چه د دائمی رهبرانو دوره او عصر تیر دی. د اوسنی نیمګړی دیمکراسی امکانات دادی که پرون د امریکی جمهور رئیس  جورج بوش وه نن د امریکی جمهور  رئیس د پوهنتون استاد او هغه هم تور پوستکی دی  .
د فدرالیزم مفکوره محتوی چه د محل خلک خپل حاکم انتخاب کړی، کاغذپرانی لړی شی. محلی تصمیم نیونه د قانون سره سمه محل کې وشی دا او داسی نوری مفکوری چه د فدرالیزم لاندی وړاندی کیږی ښی او دا مفکوره د یوی استراتیژی په توګه بده نه ده. اما فدارلیزم د افغانستان په اوسنی شرایطو کې د منلو وړ نه دی. همدا مثبت مطالب په اوسنی نظام کې عملی کیدای شی .
زه په دی باور لرم چه د قانون حاکمیت، درست کادری سیاسیت، شفافیت  په اقتصادی مسایلو کی به زمونږه ډیری ستونزی حلی کړی  .
د تاسی د معلوماتو لپاره د شمال ټلوالی به په انتخابات کې ددوی د وعدی سره سم خپل مجاهد کاندید لری.
عربی کې د بعضی  روشنفکران په هکله وایی ( ولد معارضا و سیموت معارضا) اپوزیسیون تولد شوی او اپوزیسیو به مری. راځی له داسی برخورده لاس واخلو او د وطن منافع او مصالح مقدمی و ګڼو.
پریږیدی زړی ببولای او په نوی عصر او نوی نسخو ځان عیار کړی .
نوی اولیتونه، افغانی نیکی ، علمی او زړه سوانده اراده په کاردی.
او که نه نو بیا به همدا خرک وی او  همدا درک .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de